


**E-ISSN:** 2706-8927
**P-ISSN:** 2706-8919
www.allstudyjournal.com
IJAAS 2020; 2(3): 611-614
Received: 24-05-2020
Accepted: 26-06-2020

***پوهنمل نرگس "شهنواز"***
*د پښتو څانګه ، د ښوونې او روزنې د پوهنځي استاد*
*بلخ پوهنتون-افغانستان*

# د کاظم خان شیدا په اشعارو کې د آفتاب کلمه

***پوهنمل نرګس "شهنواز"***

**Abstract**
Kazim khan Shayeda is one of the pleasant poet of all. His Excellency of poet, intelligence, scientific, and his population shows from his words. Because of his attractiveness, charm, and more enjoyments of his poets, he has lots of interesting evocations, which makes his poets more interesting. For proofing this word we should say that Shayeda is not just an innovator poet but also he is a good researcher too. He always says a problem and gives information about that. He gives a hypothesizes, which is completely joined with literary benefits. And then in some impression from evocations and his logical arguments he arrives in his aim. And complete his researches. For example, from word sun he has lots of evocations, which has different meanings. One of the example of his intelligence of Shayeda is that he uses from literary professions in his speaking and words, which has a good literary benefits. In conclusion, Kazim khan Shayedais the lover of the beauty of nature, and he always describes this beauty.

**سریزه:**
کاظم خان شیدا یو ټول منلی شاعردی دده شعري استعداد، ذکاوت، علمیت، اهلیت، د نوموړي له الفاظو څخه ښکاري، شیدا په خپلو اشعارو کې د طبیعت څخه خبرې کوي، افکار او احساسات یې د طبیعي او اجتماعي محیط څخه سرچینه اخلي، دی د لمر لفظ پخپلو اشعارو کې ډیر کارولی دی، په همدې ترتیب د نمر ښکلا په ډیر ښه شان، ښکلی انداز او ادبي پیرایې سره بیان کړي دي.

کاظم شیدا پخپل کلام کې چې په نازکخیالۍ ولاړ دی، د لمر( آفتاب ) کلمې وار، وار ذکر کړی دی چې لوستونکي د معاني د پیداکولو په ترڅ که له ستونزو سره مخ کیږي، په دغه څېړنه هڅه شوې ده چې یو شمیر تشبیهات ښه توجیه کړای شي، د دې توجیاتو د شننو سره تریوه حده پورې د لوستونکي ستونزه حل شي.

د مطالعاتو په لړکې دا راته جوته شوه چې د کاظم شیدا د ادبي هڅې په اړه ډیرې لیکنې شوي دي ؛ خو بیا نور پنځوني ته هم اړتیا لیدل کیږي، په تیره دغه برخه (د کاظم شیدا په اشعارو کې د لمرتوجیه)چې تراوسه پورې هیچا په هغه باندې کار ندی کړی؛ نو یوه بکراو نوې موضوع وه.

څرنګه چې هره څیړنه د یو ضرورت له مخې ترسره کیږي؛ نو دغه ضرورت ما ښه احساس کړ او په هغه باندې څیړنه شروع مې وکړه.

د دې څیړنې موخه او هدف د کاظم شیدا الهام د طبیعت د ښکلاو څخه ترکومه بریده ده او هم دا راپه ګوته شي چې د ژوندانه کوم مثبت او منفي اړخونه د آفتاب کلمې سره ورته شوي دي.

دغه څیړنه یوه کتابتوني څیړنه ده چې د لومړي لاس او معتبر منابع او سرچینو څخه ګټه پورته شوې ده، برسیره د نورو میتودونو څخه هم لکه: تشریحي، تحلیلي او تنقیدي میتودونو څخه استفاده شوې ده.

د دې څیړنې ارزښت اواهمیت دا دی، ترڅو لوستونکي هغه تعبیرونه چې له نمر( آفتاب ) څخه لري په همغه اصلي او نږدې معنی یې پوه شي، او له مجازي معناوڅخه توپیر کړای شي.

د کاظم خان شیدا د ښکلا پیژندنې احساس د ستاینې وړ دی، څه چې د ده دیوان او شعر ته یې خاص ارزښت ورکړی دی هغه د ده د شعرښکلا ده ( ۱۰: ۲۲۲ )

هغه یو عاشق مزاج شاعر دی ځکه د ټولو ښکلاوو مین دی، تل پخپلو اشعارو کې د طبیعت د ښکلاو څخه وصفونه لري چې دا ټول د ده د اصلي او حقیقي ښکلاو پر څښتن باندې ژمن او باورمندۍ راجوتیږي.

کاظم شیدا پخپل ژوند کې ځانله او ځانله د خپل طبیعي ضمیر،طبیعي احساس او طبیعي تفکر مدیون او مرهون پاتې شوی دی اوبس، ده خپله لاره پخپله موندلې ده، هرڅه د خپل محیط، ماحول، ټولنې، لیکوالو او مفکرینو څخه زده کړي دي او په دې لاره کې د ده مشال او رهنما د ده ذاتي ذوق، اجتماعي شعور او پاک احساس دی.

**Corresponding Author:**
***پوهنمل نرگس "شهنواز"***
*د پښتو څانګه ، د ښوونې او روزنې د پوهنځي استاد*
*بلخ پوهنتون-افغانستان*

سرای مطلع د دي آفتاب دی
په عالم یــي هرځای تاب دی ( ۵: ۱۸۴ )

شاعر په دې بيت کې د خپل ادبي کورنۍ دريځ ښيي وايي: چې د علم او ادب لمر له سرای اکوړې څخه ختلی وروسته د دې لمر وړانګې په ټوله نړۍ کې خپره شوي دي.شيدا په پورته بيت کې علم او ادب نمر سره تشبه او توجيه کړی دی، چې نور زموږ د ادبي کورنۍ له عالمانوڅخه فيض موندلی دی.
که ښه ځير شو ګورو چې شيدا په دې بيت کې د لمر څخه ډېر ښه تشبه لري په ربښتيا چې علم پخپله رڼايي ده او د خوشحال کورنۍ په هغه وخت په سرای اکوړه کې ځانګړی ادبي مقام درلود.

چې مدام وي په چشمه د آفتاب وللــــــی
د سحر په شان درست عمر سپين دامان را ( ۵: ۹۹ )

بيا هم کاظم خان شيدا له آفتاب څخه ډېر غوره تشبهات لري، دا ځل بيا هم د خپل پراخ ليد لورى له نمرڅخه يو مثبت توجيه لري او هغه يې د پاکي او د نور سرچينه بولي.
کاظم خان شيدا پخپل شاعرانه تخليقي قدرت سره الفاظ او کلماتو ته تازه ساه وربښي، چې دا واړه د شاعر نوښت او وړتيا راڅرګندوي، د ويلو نه پاتي نشي چې، کاظم خان شيدا يو لفظ په بيلابيلو مفهومونو سره کاروي، دا هم ساده او آسان کارنه دی، يولفظ ته په يو خم کې بيلابيل رنګ کول او په شعري اډانه کې ځايول دا واړه ځانته هنر اوابتکار غواړي،چې کاظم خان شيدا د خپلي شاعرۍ پهساحرانه قدرت او خلاقيت سره د دې کار له عهدې څخه وتی دی.

برابرکتــــــــــی ناظران نشــی
چې لباس لکه آفتاب هسې زري کا ( ۵: ۹۹ )

شيدا يادي موضوع په يو ډول د ډولونو په يو ښکلی انداز او ښايسته پيرايي سره وړاندې کوي، چې د لوستونکي په ذهن انځورومي، دی ډېري باريکي معناګاني د نظم په تار پيبلي، ځکه شيدا ډېرظريف شاعر دی او ډېرظرافتونو ته په شاعرانه نزاکتونو سره پام کوي او خپل شعر ته ځانګړي جذابيت وربښي.
شاعروايي: چې ليدونکي په نيغه توګه تاته کتی نشي ځکه ستا ښکلا ډيره اغيزه لري،همغسې چې دآفتاب خواته کتل سترګې زيانمن کوي
بيا په دې بيت کې د ده د ظرافتونو څخه يو انځورتر مطالعي لاندې نيسو:

لـــــــــــه شفق سره آفتاب متمثل کا
چې جلوه هغه طناز په رنګ محل کـــا ( ۵: ۱۰۱ )

د کاظم شيدا له عشقيه شاعرۍ په پوره برخه کې له حده زيات، سوز، ګداز، درد، جذب، خلوص او محويت موجود دی.
که چيرې موږ پورته بيت ته ځيرشو، ګورو چې د شاعر د تخيل قدرت، فکر، د وينا ډول، د ژبې خوږوالي او د جذباتو خلوص او اغيزه ډيرلوړدی، له دې بيت څخه انګيرل کيږي چې شيدا د خپل يار جلوه يا ظهور د نمرله شفق سره تشبه کړی دی.

د ذرې په شان مې تاب د آفتاب سوځي

څرنګه چې مخکې مې وويل: شيدا تل هغه حقيقي صانع ته باورمن دی چې د کايناتوټول صنعتونه
خلق کړي دي، د دې خبرې د څرګندولو لپاره دلته يو بيت رانقل کړو:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار
هر ورقش دفتريست معرفت کردګار( ۸: ۹)

شيدا که څه هم د هندي ادبي سبک له شديدو پلويانو څخه دی اوکمال يې دا دی چې شعري تناسب د لفظ او معنی د ده د کلام په زياترو او حتی ګردو برخو کې ليدل کيږي، د ده هربيت او هره مصرع بې تناسبه او زايد کلمات نه لري او هره مفکوره يې په ډيره لوړه او ښکلي پيرايي سره بيانوي، هره کلمه يې د يوه دقيق معيارله مخې سنجول شوې ده، له همدې امله د خپلو هنري ښيګڼو له پلوه په پښتو ادب کې ممتاز مقام لري.
اوس د دې مطلب د ثبوت لپاره د ده د کلام يوه کلمه نمر ( آفتاب ) تر څېړنې او مطالعې لاندې نيسو.

فی المثل که بل مهتاب دی
مستفيد د دې آفـــــتاب دی ( ۵: ۸۴ )

کاظم خان شيدا وايي چې د آسمان سيارات د آفتاب څخه خپله رڼا اخلي يعنی داچې، زما د يار ښکلا دومره زيات دی چې ټولو ښکلو د دې له ښکلاو څخه برخمن شوي دي او د ټولو ښکلاو اصلي سرچينه ده، شيدا د هندي سبک د پارسي ژبو شاعرانو آثار لوستی دی؛ نو ځکه پخپل کلام کې ځنې پارسي اصطلاحات کارولی دی، دا هم بايد ووايو چې که چيرې ده د خپل کلام د ښکلا لپاره د نورو ژبو د الفاظو استعمال کړي وي، او د هغو الفاظو له لارې يې خپل شعر ته ژوند ښښلي وي؛ نو موږ بايد دا حق شاعرته ورکړو چې د خپل شعر د ښکلا لپاره لهممکنو لارو څخه استفاده وکړي.
د کاظم خان شيدا شعر د شکل او فورم له نظره ډېر پوخ او لوړ دی، په پورته بيت کې هيڅ زايد او بې ارزښت لفظ نه ترسترګو کيږي، د کلماتو ترمنځ شاعرانه تناسب او د مضمون د جوړښت له پلوه د ټولو اړخونو ترمنځ هم غږي ليدل کيږي.

د آفتاب په کمند نه خيژم آسمان ته
نه ړدم بار لکه شبنم پر دوش د ګلو

که موږ پورته بيت په ځير سره وڅيرو ګورو چې:
( آفتاب ) نمر، نور، مهر
( کمند) پړي، لومې، جال، دام، کمان، تناب او هغه پړي ته وايي چې آسونه پرې تړل کيږي چې، دا يې اصلي معنا ده؛ خو دلته يې مجازي معنا پلوشه مراد ده.
(دوش ) اصلي معنا يې اوږه، ولې، د انسان شا، د شا لوړه برخه، برايي او تيره شپه ده همدايي مراد هم دی
( شبنم ) پرخه، د شپې نم
( نه خيژم او نه ړدم ) ( م ) دواړه د متکلم لپاره فعلي وروستاړی دی چې هغه پخپله کاظم شيدا دی.چې مشبه او شبنم مشبه به واقع شوی دی، د کمند په کلمه کې استعاره ده چې پخپله کمند مستعار منهُ ، پلوشه مُستعارله او آفتاب کلمه قرينه ده چې موږ له کمند څخه د پلوشه معنا واخيستله.

په فقیر دولت شوه ورځ د نور جهان شپه ( ۶: ۲۰۸ )

دولت لواني د وحدت الوجودي طريقي تکره پيرو دی او پورته بيت کي د يادې طريقې مفکورې پلوشي ځليږي، يعني په شيانو کي د ذات صفات ظهور او د ذات معرفت دی.
کاظم شيدا هم يو ورته اظهار لري.

تاچي بزم کړ ور روشن زما آفتابه
په دا شپه د سبا سترګه شب آهنګ و ( ۵: ۱۵۶ )

په پورته بيت کي شيدا د دولت لواني د مفکورې سره هم غږي ده او دخدای (ج) د ذات او صفات ستاينه ده، دده له نظره کائنات او هستي د ذات مظهر دی، صوفي نور توله هستي او خپله فنا بولي، له همدې لارې څخه يې قرب حاصل وي.
همداراز دغه تعبيير د ملنګ جان په شعر کي مطالعه کوو:

نيک اوسي جنابه په هرځای کي دی دب دب
ځـرګند يـــي لکـــــــــه لمـــــــــر ( ۸: ۳۰۱ )

دغه بيت د هغه متل ته ورته دی چي وايي: لمر په دوو ګوتو نه پټيږي.
شيدا وايي:

لکه نمر حامل د خپل شعاعي خط يم
په ما نه کيږي منت د نامه بـــــرهم ( ۵: ۱۴۲ )

لمر پخپله اصلي خط يا محور باندي ځرخي او دا غوارې چي د خط منت راباندي څوک ونه کړي، دا زما د شعاع خط دی دا ښکاره خبره ده.
ميرزا حنان بارکزی وايي:

نقاب واخله يووار مخ لکه آفتاب کــړه
باغ ته ورشه په ديده ګلاب سيراب کړه ( ۲: ۱۲۵ )

په دې بيت کي حنان بارکزی د ښکلا نه خبرې کوي، آفتاب د ټول حيات او ښکلا منبع او سرچينه بولي اوموخه يې د مطلوب ليدنه د طالب لپاره د ژوند ګټوره سرچينه ده.
شيدا وايي:

يوه ورځ لکه آفتاب کــړه نقاب لري
شعله زن په کل عالم کړه بام و صحن ( ۵: ۱۵۳ )

شيدا په دې اړه هم يو ورته نظر لري، همدارنګه چي ټول کائنات لپاره د انرژي او نور يوه ګټوره منبع ده، د يار ليدنه هم ماته لکه لمر ژوند راښيي.
ميرزاخان انصاري وايي:
عارف ذره دی د نمر په مخ کــــي
ميرزا يې رنګ کړ روښان يې خم دی ( ۱: ۲۰۷ )

ميرزاخان انصاري وايي: چي عارف او خدای پيژندونکی يو ذره دی چي خدای (ج) خواته په حرکت دی، يعني پيرروښان يو لوی صوفي او عارف سړی او د دې طريقې موسس دی، نور سالکان لکه ميرزاخان انصاري د دې مريدان دي.
شيدا وايي:

هيڅ سبب د راحت نشته بام زمـــــا ( ۵: ۱۰۶ )

شيدا د مضمون په رنګينولو او ښکلي کولو کي ډير صلاحيت لريوايي د يار د مخ ښکلا دومره زيات دی کله چي زه ورته متوجه کيږم د ذرې په شان سوځيږم او د دې سوځند تاو په وړاندي هيڅ تب و تاب نلرم.
کاظم خان شيدا د پښتنو په داسي فرهنګي چاپيريال کي ژوند کاوه چي، د شعري عالي استعداد ترڅنګه يې پراخه مطالعه درلوده، پارسي، عربي او هندي ژبې هم زده وي،د کاظم شيدا مضمون پنځوني، خيال بافي اوباريک بينی د هندي ادبي ښوونځي څخه برخمن دی؛ نو ځکه د ميني د حالاتو په تصويرکي پياوړی دی او دغه سبک يې ډيرښه پاللی دی.

په صورت مي شي خولي د حيا ماتي
که ونان ته د آفتاب څه خو نظر کــرم ( ۵: ۱۴۳ )

د يادوني وړدی چي شيدا د کلام په پيل کي خپله موضوع يا همغه اساسي ټکی طرحه کوي وروسته د هغه په محور کي نورالفاظ او شعري تلازمات ځرخوي، د دې خبرې د مصداق لپاره پورته بيت ترڅيرني لاندي نيسو، لومړی د آفتاب کلمه د موضوع په توګه وړاندي کوي د دې ترڅنګ د ابلاغ له لارې بيانوي يې، يادې موضوع داسي توجيه کيږي، آفتاب خواته هيڅ څوک کتی نشي ځکه سترګې د نمرد وړانګې په وړاندې ناتوان ښکاري زه چي تاسره مخامخ کيږم، ستا د ښکلي مخ ترتاثير لاندي راځم او د ډيرحيا اوستا د عشق له تاو څخه خوله کوم.

آواره لکه آفتاب په بحرو بريــــم
درته څه وايم چي څه سوخته اختريم ( ۵: ۱۴۴)

شيدا دا ځل بيا له آفتاب څخه يو ښه تشبه لري او وايي: زه ستا په هجران کي ډوب يم لکه آفتاب در پسي لالهاند ګرځم له همدی امله زما توله خوښي او خوشحالي سوې ده.
په پورته بيت کي شاعر نمر څخه يوه منفي تعبيير لري او د نکته سنجي او مضمون تراشي په فکرکي دی، شيدا د عاشق او عشق مرتبه بي شانه لويه ګڼي، د ده بل هنري مزيت دا دی چي دی د شعرپه ټولواصنافو کي غښتلی دی.

يوه ورځ لکـه آفتاب کړه نقاب لـري
شعله زن په کل عالم کړه بام وصحن ( ۵: ۱۵۳ )

د کاظم شيدا شعر تلپاتي شعردی، موسومي اشعار نه دي ويلي، شيدا د هندي سبک ټول خصايص پخپله شاعری کي راخپل کړل، او په پښتو کي يي داسي اشعار را ايجاد کړل چي د خپلو هنري اوفني ښيګڼوله پلوه به تل دا شعرونه ژوندي وي.
په پورته بيت کي شيدا د يارد بيلتانه په اور سوځي، او د هغې ورځي انتظار باسي چي د خپل يارله ليدو څخه يې برخمن شي، همدارنګه چي د نړی ټول موجودات لمر ته اړتيا لري بې له هغې نه ژوندون يې هم ناشوني کار دی.
د يادي موضوع په اړه نور شاعران ځانګړي تعبييرونه لري چي دلته د موضوع د روښانولو لپاره رانقل کړو:
دولت لواني وايي:

چي دلبر له لمر تابان مخ ور ځرګند که

پيدا کړي؛ نو د دې تحقيقي مقالې وروستۍ پايله هم دا ده چې د شيدا شعر له رنګينو الفاظو څخه جوړ شوی، هر لفظ او هره کلمه يې په سلګونو مفهومونه پټ دي، د بېلګې په توګه د دې الفاظو څخه ما يو لفظ چې نمر ( آفتاب ) دی ترڅېړنې لاندې مې ونيوله.دا راته جوته شوه چې شيدا د دې لفظ په طرح کولو سره خپله مضمون پردازۍ کوي، بيا د هغه په محور کې خپله موخه ګرځوي.

څرنګه چې کاظم خان شيدا يو ښکلا پالونکی شاعر دی، د دې لفظ ( آفتاب ) څخه ډير زړه راښوونکي توجيات لري چې تريوه حده پورې ورباندې څېړنه وشوه.

**اخځليک**


۱ـ انصاري، ميرزاخان. ( ۱۳۵۴ ل). د ميرزاخان انصاري ديوان. کابل: دولتي مطبعه.

۲ـ بارکزی، ميرزاحنان. ( ۱۳۵۸۸ل). د ميرزاحنان بارکزي ديوان. کوټه: صحاف نشراتي موسسه.

۳ـ خادم، قيام الدين. ( ۱۳۹۱ل ). د قيام الدين خادم کليات. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۴ـ ختک، عبدالقادرخان. ( ۱۳۹۱ل ). يوسف زليخا. کابل: بهيرمطبعه.

۵ـ شيدا، محمد کاظم خان. ( ۱۳۸۴ ل). د کاظم خان شيدا ديوان.پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۶ـ لوانی، دولت. ( ۱۳۵۳ ل). د دولت لوانی ديوان. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۷ـ مخلص، علي محمد. ( ؟ ). د علي محمد مخلص ديوان. پېښور: پښتو اکاډمی يونيورستي.

۸ـ ملنګ جان. ( ۱۳۸۵ ل ). د ملنګ جان کليات. پېښور: ميهن خپرندويه ټولنه.

۹ـ مومند، عبدالحميد. ( ۱۳۸۶ ل). د عبدالحميد مومند کليات. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۱۰ ـ هيواد مل، زلمی. ( ۱۳۷۹ ل). ادبياتو تاريخ، لومړی ټوک، دويم چاپ. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.


**لنډيز**

لنده داچې کاظم خان شيدا يو ټول منلی شاعر دی، د ده شعري استعداد، ذکاوت، علميت، اهليت د ده له الفاظو څخه ځرګنديږي، دی د شعر دلا خوږوالی، جذب او راښکون په خاطر ځنې داسې غوره تشبهات لري چې د ده د شاعرۍ نړۍ لا رنګينه کړې ده، د دې خبرې يادونه اړينه ده.

بايد ووايو چې شيدا نه يوازې تخليقکار شاعر دی، بلکې يو لوی او مستعد څېرونکی دی، چې د خپلو الفاظو نه ستونزه ( پرابلم ) طرحه کوي، بيا د هغه په اړه معلومات راټولوي، ځنې فرضيې وړاندې کوي، چې په پوره ادبي خوند رنګ شوي وي او په ورروسته د ځينو تشبيهات او منطقي استدلال پر بنسټ ځان هدف ته رسوي او خپله څېړنه بشپړوي.

د بېلګې په توګه د آفتاب له لفظ څخه ډير تشبيهات لري چې په ځانګړي مفهومونو سره توجيه شوي دي، د کاظم شيدا د ادبي استعداد ښه بېلګه دا ده چې پخپلو الفاظو کې ادبي صنايع هم کاروي، او هم له ادبي خوندونو څخه په بشپړه توګه استفاده کوي.

شيدا د طبيعي ښکلا مين دی او د طبيعت له ښکلاو څخه پخپلو اشعارو کې وار، وار يادونه sکړې ده.

ذره نه شوه د آفتاب په چشمه ګـډه
د شبنم په دود په ځان قطره آب کړه ( ۵: ۱۵۱ )

په پورته بيت کې معنی معکوسه ده، وايي چې ذره د آفتاب سره يوځای کيږي نه، دا کار له شبنم څخه زده کړه.چې شبنم د شپې لخوا شوګيري کوي ورروسته سحرد ګل سره يو ځای کيږي.
قيام الدين خادم هم د ذره او لمر څخه ځانله توجيه لري.

يوه ذره يې ستا په سرمې زړه رپيږي مــــــدام
ترهغې ځان که پوخ چې ځو نمر له حجابه ووځي ( ۳: ۱۵۰ )

خادم وايي: زه ذره غوندې لړزيږم کله چې تا وينم د لمر په وړاندې ټول ذرات ښوريږي، شاوخوا ته حرکت کوي اوعلي محمد مخلص له لمرڅخه داسې تعبيرلري:

تاريکي يي له پرتوه شوه غايـــــــــبه
چې ښکاره يې په جهان آفتاب روښان که ( ۷: ۵۱۶ )

وايي: چې د حقيقي نور له پرتوه ټوله تياره ورکه شوه او له منځه لاړه.
کاظم خان شيدا وايي:

نمايان په خاص وعام لکه ذره شي
چې نظر په کم و لوی لکه آفتاب کا ( ۵: ۱۱۱ )

وايي: چې حقيقي نور د خپل ذراتو پوسيله په ټولو شيانوباندې يو ډول ځليږي.
عبدالحميد مومند په دې اړه وايي:

په يو هسې مغرور حسن مبتلا شوم
چې لري ترنمر سپوږمی نظر د پاسه ( ۹: ۱۸۴ )

حميد بابا د خپل يار کبراو غرور لوړوالی نمر او سپوږمی سره تشبه کړی.
ګورو چې کاظم خان شيدا د دې موضوع په اړه څه نظر لري؟

فرض کړه ما بلند آفتاب يې زوال هم شته
تر آسمان تر مزکي کم کړه بام و صــــحن ( ۵: ۱۵۳ )

شيدا هم پخپل وارسره د يادې موضوع په اړه ورته نظر لري، او دواړه شاعران نوموړې موضوع د الفاظو په تغيير سره ويلي دي.

**پايله**

د دې ټولو برخې اړوند خپلې خبرې راټولې کړو، نو پوهيدای شو او دې پايلې ته رسيږو، چې د شيدا شعر تلپاتې شعر دی او هيڅ ډول موسم به يې هم خزان نه کړای شي، د ده شعر د اجتماعي ژوند په چارو کې لاربنودي ارزښت لري او له رنګينو الفاظو، نازکخيالونو او ښکلو تصويرونو څخه به يې د ذوق خاوندان په هره پيرۍ کې خوند اخلي.

په حقيقت کې شيدا زاړه مضامين نه خوښوي او د بل خيال نه ځان ژغوري، زيار باسي چې نوی مفکوره پخپلو اشعارو کې